انجنیر داؤد اڅک

۱۰ می ۲۰۲۳

## زاهد جانه عرض مي واوره

بعد له ډېره عمره مي د ځوانی يو متقي انډيوال وليدی، په رشتيا چي ډېر په خوشحاله سوم او انډيوال مي هم زما په ليدو ډېره خوښي ښکاره کړل. دا چي انډيوال مي ږيره پري ايښي وه نو مي په ټوکو کي د زاهد په لقب ورته وويل:

زاهد جانه دا څنګه مبارکه ږيره دي پري ايښي ده. زاهد جان ته ئي خوند ورکړ، په برېتوو کي ئي و خندل، پر ږيره ئي لاس تېر کی او راته و ئي ويل:

هو نو، ژوند دی. مکځ ئي و کړ او زياته ئي کړل چي کعبې شريفي ته روان يم. زاهد جان چی زما د لغړي زني يار وو په جرئت مي پوښتنه ځني و کړل: د حج فرايض در معلوم دي؟

زاهد جان په خبنم راته و ويل: خود را معلوم دي.

ما ورته  وويل: د حج يوه فريضه داده که ستا همسايه وږی وي او د خوړلو لپاره څه نه لري ته بايد لومړئ د خپل ګاونډي سره مرسته وکړي، د هغه نس موړ کړي بيا کعبې شريفي ته ولاړ سي. غوښتل مي د حج نور فرايض هم ور په ياد کړم خو زما انډوال (زاهد جان) ته ئي خوند ور نکړ او په خوابدئ ئي د خدای په اماني وکړل روان سو. ما د انډيوالی په لهجه په لوړ اواز ور ږغ کړل:

## زاهد جانه عرض مي واوره

تـر اؤوو ۷ دريـابـو مــه اوړه زاهـده ‌ ‌ پرهرسنګ باندي مونده سي پاک سبحان
کــه دي عـزم د الـلـــه رضائيت وي ‌ ‌ په مظلومو زړو کي و مونده ځپل ځان
پـر کعبــه کـه ډېوه بلـه وي که نه وي ‌ ‌ خـپـل د زړه ډېـوه دي و ساته روښان
د دنـيـا خـوښـی د کراستي ملا بند دی ‌ ‌ نـيـک عـمـل دی ښه ملګری جاويدان
د ريــا خـرقـه دي لـيـري کــړه داؤده
فـطــرتـــی ښـــکلا جوهر دی د انسان

۹- ۵ - ۲۰۲۳